


# د برموډا مثلث تر شا پټ او حیرانونکي رازونه

**برموډا ټرېنګل**

**لنډيز**




**وخت مو نه ضايع کوي!**
**د برموډا د مطلب په ويلو سره به تاسو د دې مثلث تر شا حيرانونکي رازونه وپيژنئ او په دې اړوند به د غيري مسلمانانو کمزوري عقيدي او باورونو و پيژنئ او همدارنګه په دې به هم پوه شئ، چي ولي شيطاني مثلث ورته وايي؟. دا د الله (ج) د يوه عجيبه خلقت يوه نمونه ده چي تر اوسه کفار په دې نه دي توانيدلي چي حتى د دې مثلث(شيطاني مثلث) اصل عامل پيداکړي که څه هم په دومره قوي ټکنالوجی سره سمبال هم دي، بس دوي په عقيدو باندي تر اوسه بسنه کړيده.**

**Prepared By: Mohammad Dawood “Afghan”**
**Bermuda**

**Download from:aghalibrary**

بسم الله الرحمن الرحيم

# مطلب پېژندنه

**د مطلب نوم:** د برمودا مثلث تر شا پټ او حیرانونکي رازونه

**ترتیب کوونکی:** محمد داؤد (افغان)

**د برېښنالیک پته:**modawoodafghan@yahoo.com

**د تماس شمیره:** ٧٠٧٩۴٣٧۵٨(٠) (٠٠٩٣)

**د خپرېدو کال:**١٣٩٨ ه ش



**Download from:aghalibrary**

# ډالۍ!

**هغو افغانانو ته، چي د وطن اصلي مینه یي په زړه کي، په خپل هویت ویاړ کوي او هره شیبه یي د خپلو خلکو د ریښتني خدمت آرمان په زړه کي وي.**



Download from:aghalibrary

## سریزه

دا زما د اسلامي، معلوماتي، سياسي، ادبي او ټولنيزو ليکنو څخه يوه وړه برخه ده چې زه يې نشر کوم، په دې هيله يم چې تاسو به د دغه مطلب څخه خوند واخلئ او همدارنګه اړوند معلومات به تر لاسه کړئ او تر نورو ورونو پورې يې ورسوئ. يوائې دغه ليکنه نه، بلکه ژوند وو، انشا الله چې زما کتابونه (د انګليسي ژبې ګرامر(پښويه)، د تکنالوجی د آغيزو اړوند يو کتاب) او نور لنډ په زړه پوري مطالب لکه (د المان سياسي رژيم ...) چې اوس مهال مې تر کار لاندې دي، ژر به ستاسو معلوماتي تنده ماته کړي.

دغه مطلب چې تر ډيره بريده د يوې نوي او حيرانونکي پديدې په توګه چې تر ډيره زمونږ د ټولنې ځوان او زوړ قشر دواړه ورڅخه نا خبره دی او غيري مسلمانان ورباندې بيلابيلې نظريې ورکوي او بس په خيالاتو بناء دي، ليکل شوی. هڅه به وکړم چې په دې اړوند تاسو ته ډير نور لازم معلومات راټول کړم. د برمودا مثلث ته ولې شيطاني مثلث وايي؟ د برمودا مثلث موقعيت چيري دی؟ دبرمودا سيمه د مثلث او که بيضوي شکل لري؟ دا مثلث ولې زيان اړونکی دی؟ بيلابيلو علماؤ په دې اړوند کومې نظريې ورکړي دي؟ د برمودا مثلث تير او راتلونکې په اړوند وړاندې شوي فرضې څه شي دي؟ دا او دې ته ورته ګڼو پوښتنو ته به لازم جوابونه پيداکړئ.

يوه خبره د يادونې وړ ده، چې يو شمير مسلې په وار، وار په عمدي ډول د نوي ځوانانو په نظر کې نيولو په وجه تکرار، تکرار ليکل کيږي، نو له هغو درنو لوستونکو څخه چې دغه تکرار يې له ضرورت پرته ږر تحميليږي بخښنه غواړم.

**په درناوي**

**محمد داؤد (افغان)**

**د آمن او سوکاله افغانستان هيله مند**

**چونی – کندهار – افغانستان**

**۲۴-۴-۱۳۹۸**



Download from:aghalibrary

# لړلیک


سریزه ........ د
لمړی برخه ........ 1
برمودا مثلث ........ 1
د برمودا مثلث د پیښو د سببونو په اړه نظریې: ........ 8
لمړی. فرضي اوطبیعي لاملونه: ........ 8
دوهم. فرضي او غیري طبیعي لاملونه: ........ 9
د لومړی برخي لنډیز ........ 10
د لومړی برخي پوښتني ........ 11
دوهمه برخه ........ 12
د اسلامي علماؤ نظریه ........ 12
د برمودا مثلث تیر او راتلونکی ........ 15
دبرمودا مثلث او دنورو سیارو دموجوداتو حقیقت ........ 16
د دوهمي برخي لنډیز ........ 17
د دوهمي برخي پوښتني ........ 18
دریمه برخه ........ 19
برمودا مثلث ناویلي حقایق! ........ 19
دبرمودا مثلث مرموزي پیښي! ........ 19
۲) کار ۱-ډرینګ : ........ 20
۵) استار تا یګر : (B.S.A.A Star Tiger) ........ 22
د برمودا مثلث داخلي جوړښت ........ 23
د دریمي برخي لنډیز ........ 25
د دریمي برخي پوښتني ........ 27
پایلـــــــه ........ 28
ماخذونه ........ 29




Download from:aghalibrary

# لمړۍ برخه

## برموډا مثلث

په دغه برخه کي د برموډا ټرینګل پر موقعیت او همدارنګه د دې مثلث پر پیژندګلوي باندي بحث وکړو، د برموډا مثلث چي د شیطاني مثلث په نوم هم یادیږي د اطلس سمندر په سهیل ختیځ ژۍ کي پروت دی چي د دې قسما مثلث ته ورته شکل، درې راسونه له فلوریډا او پورتوریکو سره نښلول شویدي. که څه هم دا سیمه منظم مثلثي بڼه نلري اما د دریو راسونو په وجه یي غالبا د مثلث په نوم یادوي. د برموډا درې ضلعي سیمي د پراختیا او مساحت په اړه ډیر شمیر روایتونه موجود دي چي ځیني یي د ۱۳۰۰ زره کلیومیټروپوري بولي خو اکثریت مطلق د برموډا ټرینګل[1] سیمي مساحت تر ۵۰۰ زره مایل مربع اټکلوي.







په لومړي ځل د وینسټ ګاډیس لخوا په کال ۱۹۶۴ کې د ارګوزي په نوم مجله کې د برموډا ټرینګل جغرافیوي حدودو وپیژندل شول. نوموړي خپله څیرنه د (برموډا وژونکي ده) تر نامه لاندي دومره اوږده کړه چي حتی د یو کتاب په بڼه یي خپره کړه. وینسټ ګاډیس د برموډا مثلث جغرافیوي موقعیت داسي تعریف کړی دی: یوه کرښه له فلوریډا څخه تر برموډا ، بله کرښه له برموډا څخه تر پورتوریکو او دریمه کرښه له باهاما تیریږي چي په فلوریډا ورګډیږي.

---

[1] مثلث




د برمودا مثلث نومې سیمه د خپل جیوپولټیک او ستراتیژیک موقعیت له مخې د سمندر او هوایي ټرافیک له اړخه د نړۍ یو له ګڼه ګڼو سیمو ګڼل کیږي. د دویمې نړیوالې جګړې په درشل کې امریکایي هوایي پوځونو د خپلو پوځي تمرینونو په لړ کې د ۱۹ لمبر پرواز تي بي ایم(TBM) ډوله بم اچوونکي پنځه الوتکي په ناڅاپي ډول په همدې سیمه (دبرمودا ټرینګل) کې له لاسه ورکړې، د دوی تري تم کیدلو امریکایان پدې وجه په حیرانتیا کې واچول چې پدې ورځ جوي حالات په بشپړ ډول عادي وو، الوتکي په هر لحاظ سمبال وې او په نموړي سیمه کې له مخکې د سونامې یاسمندري طوفانونو په اړه کوم خبر هم نه وو ورکړل شوی. د امریکا د هوایي پوځونو قوماندان د ۵ جنګي او سریع السیر الوتکو د ورکیدو سره سم شپږمه الوتکه د دوی د موندلو لپاره ورپسې واستوله چې دا هم د پخوانیو پنځو په ډله ورکه‌ شوه یعني د تل لپاره ورکه شوه. د ۱۹ پرواز اړوند تي بي ایم(TBM) ډوله الوتکو د پرواز عمومي قوماندان د فلوریدا په څنده کې د پرواز پر مهال مخکې له دې چې خپله راډیویي اړیکه د کنټرول له مرکز(رادار) سره له لاسه ورکړي؛ په مرموز ډول خپل مخابروي پیغام ثبتوي. نوموړی پخپل راډیویي پیغام کې وایي: زمونږ چاپیر هرڅه په تیره بیا سمندر یو عجیب حالت ځانته غوره کړی. مونږ نه پوهیږو چې ولې؟ اما زمونږ مسیر او زمونږ حرکت په ناڅاپي ډول زمونږ له ولکې وتلی اوس مونږ په سپینو اوبو کې د ننوتلو په حالت کې یو. داسې معلومیږي چې له بده مرغه مونږ له ستر ناورین سره مخ یو.

دا چې امریکا د عصري تجهیزاتو له اړخه ډیره اکماله ده خو بیا هم دامریکې دولت پخپلو عصری امکاناتو او تجهیزاتو د ډیروهڅو سره سره دورکو سویو الوتکو او پکښې د ۱۴ خدمه کسانو په اړه تر اوسه هیڅ شواهد، مدارک او پاتې شونې ونه موندل. دا ډول پیښې وې، چې د برمودا شیطانی مثلث نړیوال شهرت پیداکړ. څیړونکي وایي چې دبرمودا ټرینګل سیمه کې یو ډول داوبو سپین رنګه څپې، حتی له فضا څخه هم د لیدلو وړدي.




له پورته پیښو وروسته په لومړي ځل د برموډا ټرینګل په سیمه کې د اجسامو او انسانانو د ترۍ تم کیدوادعا ښاغلي( ادو اډو ین وینګل جونز) په ۱۹۵۰ کال کې د اسوشیټیډ پریس ورځپاڼې په یوه ګڼه کې د میامي هلارډ تر عنوان لاندې مطرح کړه خو چا دومره مهمه و نه ګڼل. دوه کاله وروسته فیټ مجلې د ښاغلي (جورج ایکس) لخوا یوه مطلب خپور کړ چې عنوان یې ( د سمندرونو په تل کې پټ رازونه) وو. جورج ایکس په برموډا نومي ځای کې د ۱۹ پرواز اړوند د ۶ الوتکو سر بیره د ډیرو نورو هغو الوتکو اوبیړیو نوملړ هم خپور کړ، چې په برموډا ټرینګل کې په ناڅاپي ډول بې درکه سوي وې.


همدا ډول ځیرونکي وایي چې یواځې په وروستیو سلو کلونو کې برموډا د تقریباً ۲۰ مختلفو النوع الوتکو او تر ۵۰ ډیرو سمندري بیړیو دهضم مسولیت په غاړه لري. ویل کیږي چې د ۱۹۴۹ زیږدیز کال د جون په ۱۹ مه د بریټیش ایرالاین اړوند یوې الوتکې پداسې حال کې چې له کینډلې څخه د کینګستون جامیکا په لوري پرواز کاوه؛ په همدې سیمه کې ترۍ تمه سوه چې تر نن ورځې د نوموړي الوتکې ، ۷ خدمه او ۱۳ مسافرینو په اړه هیڅ مدارک ندي پیدا سوي. همدارنګه د ۱۹۶۳ کال د فبروري په څلورمه نیټه د امریکا دسمندري پوځونو اړوند لویه بیړۍ (Sulpher Queen) په همدې سیمه کې د همېشه لپاره ورکه سوه. سیمه ته

لیږدول سوي ټیم له څواو نیو پرلپسی پلټنو سره سره د دې لویي سمندري بیړۍ په اړه هیڅ داسي مدارک تر لاسه نه کړل چي په اړه یي څیړنه تر سره سي.




وروسته بیا همدارنګه د ستار ټایګر او ستار اریل په نوم د ( پنځم آروتوډور شاهي خاندان) اړوند دوه الوتکي چي له بریتانیا څخه د جنوبي امریکا په لور په حر کت کي وې هدف ته درسیدو مخکي په برموډا نومي سیمه کي لا درکه سوې.

بله واقعه د(U.S.S Cyclops) په نوم دډبروسکرودحمل لویه بیړۍ وه چي په ۱۹۱۸ زیږدیزکال کي دباراړبوډوس څخه له تیریدو وروسته دبالټیمورپخوا روانه وه، چي دتل لپاره بې درکه شوه پرته له دې چي دکوم سمندري توپان سره مخامخ سي یادتخنیکي عوارضو له کبله په تدریجي ډول په اوبو کي ډوبه شي په دې بیړۍ کي تر ۳۰۶ پوري کسان سپاره وو، چي دا د امریکایي سمندري پوځونوته په غیرجنګي حالتونو کي ترټولو لویه ضربه ثبت شوه.



همدارنګه د(U.S.S Nerues) نومي بيړۍ يوله هغه څلورو لويو سمندري بيړيوڅخه وه چي په لمړۍ نړيواله جګړه کي يي دامريکا پوځيانو ته د تجهيز اوملاتړلپاره د ډېرو سکاره انتقالول. په دې لويه بيړۍ باندي يي ديوناني الهې (دملوانان ساتونکي)نوم ايښی وو، چي په کال ۱۹۴۱دنومبر په لسمه په داسي حال کي چي له سنټ توماس څخه ديورټلنډ په لوري دراستنيدو په حال کي وه د ورجين په ټاپوکي د خپل ۶۱ خدمه سره دقيق په هماغه ځای کي تری تمه سوه چي مياشت مخکي يی بله خور (جوړه) پکي ورکه سوې وه.

له دې څخه وروسته د (U.S.S Proteus) په نوم يوه بله بيړۍ چي پخواد ډېروسکرودټرانزيت (حمل او نقل) لپا ره کارېدله خونوي په سوداګريزو برخوکي دتوکو د ليږد لپاره تري ګټه اخيستل پيل شوي وو پداسي حال کي چی له ورجين ټاپو څخه په سنټ توماس کي دامريکا د ختيځو سرحدونو په لوري په حرکت کي وه د۱۹۴۱ دنومبر په کال په۲۳ مه نيټه په نابېره توګه لادرکه سوه د۱۶۵ متره اوږده بيړۍ له۵۸ خدمه سره چي بوکسيټ المونيم هم په کي رسول کيدل په خپلو دوو نورو خويندو پسي ورکه سوه. دا يوه له هغو څلورو تر ټولو لويو بيړيو څخه وه چي په نړيواله جګړه کي يي د امريکايي پوځيانو لپاره اکمالات کول.



دلادرکه شويو بيړيو د پيداکولو لپاره توظيف سويو هيئاتونو د برموډا ټرينګل د وحشتنا کي سيمي په اړه ډيری نظرونه اوفرضيي وړاندي کړې، چي يويي هم علمي اودقناعت وړ نه بلل کيږي. ځيني يي سبب په اوبوکي دننه د يوډول الوتونکو اوانسان تښتونکو موجوداتو شتون په ګوته کوي، ځيني بيا په دې سيمه کي د وخت سير، ديوي نا معلومي نړۍ په لوري دريچه ، الکترومقنا طيسي اومقناطيسي زيرمو شتون ، جيوفزيکي پديدي او ترسمندرلاندي ميتان غازونو اړوند ګډيالونه اوداسي نورو پديدو شتون په ګوته کوي. ترټولوعجيبه نظربيا

تراوبولاندي دیوښار شتون په ګوته نیسي چي ویل کیږي یووخت دځمکي پرسروو خو افسانوي شهرت یي درلود چي دځینو مرموزو توجیهاتوله کبله دسمندر ترڅپولاندي راغی خو دوی وایي چي هلته لاهم ژوند ، دژوند امکانات ،عصري ټکنالوجي او ژوندي موجودات سته.



بیلا بیل نور روایتونه هم سته چي ځیني څیرونکي بیا وایي په حقیقت کي دبرمودا مثلث ډوله سیمه کی د ورکیدونکو وسایلو مجرا د نړی په سیمو کي هم تکراریږي. دوی وایي مونږ هیڅ داسي اسناد ندي پیداکړي چي د برمودا په سیمه کي د داسي یو بالقوه انرژۍ څخه استازیتوب وکړي چي د نقلیه وسایطو د راکښلو سبب وګڼل شي. دوی وایي په برمودا نومي سیمه کي تر ډیره ناڅاپي اووحشتناک طوفانونه رامنځته کیږي. دوی وایي په دې سیمه کي دسمندري تودو څپو څخه دګلف سټریم په نوم طوفانونه د اوبو د قهرجن اومتخاصم حرکت سبب کیږي چي دګلف سټریم طوفان څپي ډیري اغیزناکي او بریدګري هم دي چي همدا څپي د ورته پیښنو لامل ګڼل کېدای شي. په دې سیمه کي دورکوسویو بیړیو او الوتکو بیا موندل خوراستونزمن کاردی. ویل کیږي دبرمودا مثلث اړوند سیمه داطلس سمندر ترټولو ژوره برخه ده. څیرونکي وایي: په برمودا مثلث نومي فرضي سیمه کي داوبو ژوروالی تر ۹۲۰۰ مترونو پوري رسیږي ځکه خو د ډوب سویو انسانانو او عراده جاتو په اسانه موندل د تمي خلاف بریښي.

دبرمودا ټرینګل په سیمه کي د ډوب سویو یا تري تم سویو بیړیو او الوتکو په اړه شواهد تر ډیره له دي ټکي حکایت کوي چي ددوی کپتانانو یاپیلوټانو په ناڅاپي ډول د ګواښ احساس کړی، آهسته آهسته یي مخابروي اړیکي کمزوري سوي او مخکي له دې چي دپیښي

ماهيت اواصليت و وايي؛په ناڅاپي ډول له رادر څخه پناه او د تل لپاره ورکي سوی. له پيلوټانو اود بيړی د کپيټانانو په راډيويي پيغامونو کي راز دا دی چي دوی وايي: مونږ کرار کرار له فضا او وخت څخه ليري کيږو، په ځينو راډيويي پيغامونو کي داسي هم ويل سوي دي چي ګواکي دوی يو ناپيژانده اوغيرقابل تشريح رڼا ويني، ځينو بيا د اوبو په تل کي ديوې لويې اوعظيم الجثه تورنګه مادي له ليدلو حکايت کړی. ځينو بيا ويلي چي دوی د آسمان او د ستورو ترمنځ يوه تور رنګه ماده ويني چي ګومان کيږي له ځمکي څخه هم دي توري مادې ته د يو تونلي مجرا له لاري رڼا ور رسيږي.

په يوځانګړي مورد کي د يوې جاپانی بيړی څخه په ترلاسه شوي راډيويي پيغام کي حيرانونکي پيښي څخه حکايت شوی. دبيړی کپيټان وايي: همدا اوس زمونږ په خوا دخنجرپه شان يوه توره او ديره وحشتناکه ماده را روانه ده. مونږ نه پوهيږو دا کوم ځای دی؟ کپيټان مخکي له دې چي د دې خنجر ته ورته ګواښ په اړه نورجزيات ورکړي، اړيکه يي دتل لپاره پري کيږي.

د دې هرڅه سره سره دبرموډا ټرينګل (مثلث) موضوع تراوسه د خپل عصر پخپل ذات کي تر ټولو ستره نا حل سوې معما ده. دبرموډا مثلث هيبت ناکي اغيزې يوازي د مثلث تر سرحداتو رامحدود هم نه دي بلکي ډير کله يي اغيزي د خپلي حيطې ور شا وخوا هم تر سترګو سوي دي. خو تر ټو لو ډير ګومانونه بيا دبرموډا تر پيښو د يوايف او( Undefined Flying Objects) او شيطاني فعاليتونه شتون په ګوته کوي. په تيرو سلو کالو کي هلته تر ۱۰۰۰ زيات انسان لادرکه سوي او په اوسط ډول هر کال ۴ الوتکي او تر شلو زياتی بيړی يکي ورک کيږي.

د(AUTEC) يا (Atlantic Undersea Test Evaluation Center) برموډا مثلث ته څېرمه دامريکا بهاما ايالت اړوند په اندراس ټاپو کي موقيعت لري. دلته امريکايي سمندري ځواکونه په اوبو کي دننه او د اوبو پرمخ خپل پوځي تمرينونه هم کوي.

ځيني څيرونکي او د سيمي اوسيدونکي بيا د برموډا په سيمه کي د يو ډول بريښنايزو وريځو يا فاګ(Fog) څخه کيسه کوي. همدې سيمه کي له يو تصادف څخه ژغورل سوی پيلوټ (بروس جرنون) ادعا کوي چي په ناڅاپي ډول يي د پرواز مسير بدل سو، الوتکه يي د رادار د کرښي څخه د باندي ووتله او له اته ويشت دقيقي وروسته تاخير او ورکيدلو وروسته د ميامي سمندر په څنډه کي بيرته د رادار کرښي ته راغله.

لمړنی کس چي د برموډا په اړه یي خبر داری ورکړ؛ هغه د امریکا د لویي وچي کشاف (کرستیف کولمب ) وو. نوموړي له همدې سیمي څخه له تیریدو سره خپل لیدلی حال پخپل یو ژورنال کي لیکلی: د برموډا په سیمه کي د سمندري بیړیو قطب نما (Compass) خپل کار پریږدی او دا هغه وخت وو، چي مونږ په آسمان کي د اور له جنس څخه ځلیدونکو ستورو ته ورته اجسام ولیدل. برموډا هغه سیمه ده چیرته چي د بیړیو قطب نما خپل مقنا طیسي شمالي قطب پریږدي او حقیقي شمالي قطب ته انحراف ور کوي چي دا د بیړیو د ناڅاپي ناهنجاریو سبب کیږي.

دسلګونو نورو فرضیو ترڅنګ ځیني څیړونکي په دې اند دي چي په برموډا نومي سیمه کي د (Hexagonal Clouds) په نوم وریځي لیدل سوي. دا وریځي د سمندرو پرمخ تر ۱۰۰۰ مایل په یو ساعت کي سرعت سره هیبت ناکه توپانونه را منځته کیږي. همدارنګه همدا وریځي په عمودي شکل په اوبو کي دننه هم تر ۱۷۰ مایل پر یوساعت سرعت سره چټک طوفانونه رامنځته کوي. د برموډا مثلث سیمي اړوند د سمندر په تل کي د میتان دغاز شتون هم د ډیرو څیړونکو لپاره دبرموډا دهیبت اصلي لامل دی.

## د برموډا مثلث د پیښو د سببونو په اړه نظریې:

دبرموډا ترینګل د پیښود سببونو په اړه دوه ډوله نظرونه شتون لري چي په لاندي ډول به تاسو ته په تفصیل سره وړاندي شی.

### لمړی. فرضي اوطبیعي لاملونه:

د طبیعي اوفرضي لاملونو په اړه خورا ډیري نظریي وړاندي سوې چي تر ټولو زیات توضیحات د غیر طبیعي مړیني په استناد ولاړ دي. دوی د غیر طبیعي مړیني نوم پدې خاطر ور پوري کوي چي تر اوسه د دومره تلفاتو څخه هیڅ اثر یا د ډوب شویو کسانو مړي نه دي پیدا سوي.

ځيرونکي وايي : دسمندر په تل کې دخورا لويوځمک لړزو په وسيله د ډېرو لويو درو او لوړو ژورو له کبله خورا ويجاړونکي بادونه، طوفانونه اوګردبادونه(بړبوړکۍ) رامنځته کيږي، د ځمکي ښويدني له کبله هلته دمقناطيسي قوې آزاديدل او د اجسامو په تيره فلزاتو تر اغيز لاندي راوستل او د الکټرو مقناطيسي موجونو ترمنځ اختلافونو پيښيدل او داسي نور چي دا نظريه په واحده نقطه کي د الوتکو او بيړيو د لادرکۍ په اړه بيا هم د قناعت وړ دلايل نلري، ځکه خو د ډيرى ځيرونکو لخوا رد کيږي.

**دوهم. فرضي او غيري طبيعي لاملونه:**

تر ځمکه لاندي د ځينو نورو ژونديو موجوداتو په وسيله د انسانانو د برمته کيدل نظريه د غيري طبيعي فرضي نظريو په لومړي سر کي راځي. که څه هم دا نظر ډير خيالي بريښي اما ځيرونکي وايي چي داسي ګومان کيږي دا موجودات د انسانانو په اړه تحقيق پسي را وتلي ، دوى غواړي له خپلي حيطې شاوخوا نور تمدنونه کشف کړي لکه څرنګه چي انسان په مريخ او نورو سيارو کي همدا ماموريت مخکي وړي. په همدې تړاو حکيم، اروايوه او منجم ښاغلی (ادګارکايس)وايي : دليزر وړانګو له موندلو څخه پيړى پيړۍ مخکي د اطلس سمندر په ځنډو کي پرتو خلکو له کريسټال څخه د انرژى د سرچينې لپاره ګټه اخيسته.
نومورى وايي : د دوى لخوا يو ډول القا سوې شيطاني انرژي اوس د سمندر په يو ميل ژور تل کې د اندروس سيمي اړوند برخه کي ډوب سوې چي دبيړيو، الوتکو او نورو نقليه وسايطو دسقوط سبب کيږي.

## د لومړۍ برخې لنډيز

په دې برخه کې مو د برموډا مثلث چې په انګليسي کې ورته (Bermuda Triangle) وايي د موقعيت په اړوند ووېل چې د اطلس سمندر په لوېديځه برخه کې پوځای دی چې نړېوال يې د شيطاني مثلث په نامه هم پيژني. د دغه شيطاني مثلث د مساحت په اړوند بيلابيل ارقام ذکر شويدي چې دقيق نه دی معلوم چې ځيني يې (۱۴۰۰۰۰) کيلومتره مربع ښيي او نور بيا نور ارقام يادوي. د دغه مثلث په يوه زاويه کې د فلوريډا ميامي ښار، بله زاويه کې د پورتوريکو ښار او بله هغه يې خپله برمودا جزيره ده. بل مو ووېل چې په دغه سيمه کې د زرګونو مبهمو او پټو پيښو سربېره يو شمير پيښو انسانان داسي بيرولي چي هيڅ ډول امکانات يي څوک نشي قانع کولای، د مثال په ډول: امريکايي مليارډر هري کوونور ( Herry Conover) په ۱۹۵۸ کال کي دغي سيمي ته په سفر ولاړ او په همدغه سيمه کي ورک سو، خو حيرانونکي خبره دا وه چي څو عمر په تيريدو سره د هغه کښتۍ د ميامي په يوه ساحل کي پيدا سوه، چي د هيڅ ډول حملي او سرقت نښانه هم لا نه پري معلوميده چي دا ډول پيښي په وار وار تکرار شويدي. دغه مثلث چي د شيطاني مثلث په نوم ياديږي د ډيرو ساينس پوهانو، نظامي کارپوهانو، او چيرونکو توجه يي را جلب کړې ده، چي تر اوسه (۵۰) لويي کښتۍ او (۲۰) مختلف النوع طياري پکښې ورکي شوی دي. ځيني ځيړونکي دا سيمه حتی د دوږخ دروازه هم بولي او ځيني نور په دي سيمه کي د ډيرو الکترومقناطيسونو شتون ښيي دوی وايي چي دغه ښکاره خبره ده چي دلته د جاذبې قوه موجوده ده.



## د لومړۍ برخې پوښتنې

مهرباني وکړئ ،لاندې پوښتنو ته لازم جوابونه ولیکئ.

۱. سوال: د برموډا مثلث جغرافیایي موقعیت تشریح کړئ؟

۲. سوال: د برموډا مثلث د مساحت په اړه لنډ معلومات ولیکئ؟

۳. سوال: څیړونکي د برموډا دساحې او فضا د رنګ په اړه څه ویلي دي؟

۴. سوال: څیړونکي په ورستیو کلونو کې د الوتکو او سمندري بېړیو د غرقیدو شمیر څو دئ؟

۵. سوال: هغه کوم کس ؤ چې د لمړي ځل لپاره یې د برموډا د مثلث د شتون په اړه خبرداری ورکړ؟

# دوهمه برخه

# د اسلامي علماؤ نظريه

د ځينو اسلامي علماؤ په نظر د برمودا مثلث په ساحه کي د شیطانانو د باچا (ابليس تخت) موجود دی، نور نو په دې اړه الله(ج) ښه پوهیږي خو دلته به موږ د يوه اسلامي عالم وينا را واخلو چي د قرانکريم او په احاديثو سره مستنده ده.

دالله(ج) رسول(ص) فرمايلي دي: چي د ابليس(Master of Satan) يعني د شيطانانو د با چا خپل تخت په اوبو کي ځای پر ځای کوي وروسته دغه ابليس له دغه ځایه څخه نور شيطانان رهبري کوي( د دې لپاره چي د مسلمانانو تر منځ اختلافات را منځته کړي).

د شيطانانو په منځ کي و ابليس(Master of Satan) يعني د شيطانانو مشرته تر ټولو نږدې کس هغه څوک دی چي د مسلمانانو په بدلاره (اختلاف رامنځته) کولو کي مخکښ وي.(صحيح مسلم، حديث شميره ۵۰۳۲) نموړی اسلامي عالم وايي: تاسو اوس په دې حديث ښه پوهيږئ، صحيح ده! چي د ابليس تخت په او بو کي دی او نموړی د پيريانو له لاري خپل مرستندويانو ته مشوري ورکوي. ابليس(Master of Satan) يعني د شيطانانو مشر خپلو نورو شيطانانو ته وايي: هغه څوک چي نن ورځ تر ټولو په ښه ډول د مسلمانانو تيرايستل(ناحقي لارې ته بلل) تر سره کړي، زه [ابليس(Master of Satan) يعني د شيطانانو مشر] به په خپلو لاسونو د هغه پر سر باندي تاج کښيږدم.

او بيا ورته وايي چي ولاړسئ؟

او بيا نور جينيات ځي، چي دغه د ابليس(Master of Satan) يعني د شيطانانو مشر ورسپارل سوې دنده ترسره کي، چي د مسلمانانو تير ايستل او غلطې لارې ته رهبري کول دي. ټول شيطانان خپل کارونه هره ورځ ورته وايي: نو يو شيطان ورته وايي چي ما يو سړی په زنا مرتکب کړ دغه په بخاري او مسلم شريف کي راغلي دي نو دا يو صحيح حديث هم دی او بل شيطان راځي او ورته وايي ما په دغه سړي غلا وکړه او همداسي په تسلسل سره شيطانان راځي او ورته وايي چي ما په دغه سړي دغه کار وکړ، ما په دغه سړي هغه کار وکړ، او ما دغه ښځه داسي غلطه تيرايستله.

په دغه ښځي مې حجاب ليري کړ، نو ټول شيطانان همداسي په ادامه سره خپل راپور ورکوي خو په اخر کي يو شيطان راځي او ورته وايي چي ما يو خاوند او ميرمن سره جلا (طلاق) کړل. نو ابليس(Master of Satan) يعني د شيطانانو مشر ور ته وايي: چي ته هغه يو يې. راسه! راسه! او بيا به هغه ځان ته را وبلي، ورته وبه وايي چي، زما تر ټنګ کښېنه! ته زما د زړه نفر يې. دغه جين به و لاړسي او وبه وايي: نن زه په دې وتوانيدلم چي ما خاوند او ميرمن سره جلا (طلاق) کړل. تاسو پوهيږئ! شيطان به څه ورته و وايي؟ راسه! راسه! راسه! ته زما اصلي نفر يې! او بيا به نو تاج ور پرسر کړي.

نموړي عالم ور پسې زياتوي: چي په دې اړه په مسلم شريف کي يو صحيح حديث د جابر (رض) څخه روايت دی، چي وايی: نشه کول حرام دي، قتل کول حرام دي، زنا حرامه ده او بل هر ډول ګناه نوم چي تاسو غواړئ نوم يې واخلئ حرام دي، خو طلاق نه دی حرام. نو ولي شيطان ورباندي ډير خوشحاله کيږي؟ دی ورباندي ډير خوشحاله کيږي، ولی؟ ستاسو دښمن هميشه څه شي غواړي وکړي؟ ستاسو په ويشلو او بې اتفاقی کي برې. نو دی اوس په دې و توانيدی چي د ټولني لمړنی واحد سره جلا کړي. دا ولي؟ تاسو وګورئ چي ټولنه له څه شي څخه جوړه سويده؟ د واحدونو څخه، تاسو د يوه ديوال خښتو ته فکر وکړئ. په ټولنه کي کورنۍ لمړنۍ خښته او واحده ده! نو وروسته د طلاق څخه دا بيا اسانه کيږي چي ټولنه سره جلا کړي. شيطان اوږد مهاله پلانونه لري. هغه څوک چي خاوند او ميرمن سره جلا(طلاق) کوي هغه کس شيطان ته تر ټولو محبوب کس وي. ډيره پاملرنه کوئ! ....شيطان ته اجازه مه ورکوئ چي تېر مو باسي!

ابليس(Master of Satan) يعني د شيطانانو مشر تخت په سمندرونو کي دی او پر خپل ځان نور شيطانان راټولوي په دې سره دی د الله (ج) سره ځان تشبه کوي. د ابليس( Master of Satan) يعني د شيطانانو مشر د تخت په باره کي خلک خبري کوي، چي ابليس چيري دی؟ او د ده تخت نو چيري دی؟ د حضرت محمد (ص) څخه جابر (رض) يو ډير صحيح حديث شريف په مسلم شريف کي روايت کړی: چي محمد(ص) و فرمايل: د شيطان تخت [ابليس(Master of Satan) يعني د شيطانانو مشر تخت] په اوبو کي دی. نموړی عالم زياتوي چي خلک سوالونه کوي چي چيرې؟ په کومو اوبو کښي؟ په کوم سمندر کي؟ نوموړی عالم وايي: الله(ج) د دغه سوالونو په جواب ښه پوهيږي......بلکه ځيني داسي يقيني نښي موجودي دي، کوم چي موږ ته ويلای سي چي د ابليس(Master of Satan) يعني د شيطانانو

مشر تخت چیري دی. په یوه بل حدیث کي راغلي دي چي دا هم په مسلم شریف کي دی، وایي: چي د شیطان تخت د برزخ په او بو کي دی.

برزخ څه شي دی؟

برزخ د خوږو او تروو اوبو جلا والي ته وایي. تاسو پوهیږئ، په دې اړه یو آیت هم موجود دی: الله (ج) دوه سمندرونه داسي سره نښلولي دي (د خوږو او تروو اوبو) چي د دوي په منځ کي داسي یوه پرده واقع ده چي د دواړو سمندورنو اوبه یو له بله سره نه ګډیږي.(سوره رحمن ۵۵: ۱۹-۲۰). چیري چي خوږې او تروې اوبه نه سره ګډیږي هغه برزخ دی. د هغه مخکني حدیث په ادامه چي وایي د شیطان تخت د برزخ په اوبو کي دی نو اوس بیا برزخ په سمندر کي چیري دی؟ لاکن اوس به زه تاسو ته یوڅه وړاندي کړم.

آیا تاسو د برموډا مثلث په اړه اوریدلي دي؟

هلته څه پیښیږي؟

هلته داسي څه پیښیږي چي تر اوسه هیڅوک په دې نه دي توانیدلي چي هغه تشریح کړي. ۱۹ شمیره الوتکه. ایا تاسو د ۱۹ شمیره الوتکې په اړه څه اوریدلي دي؟ هغه چي ورکه سوه. تولي الوتکي او بیړۍ چي ورکیږي. په ۱۹۴۸ م کال کي د سټار ټایګر الوتکه چي ورکه سوه او وروسته یي یواځي تور بکس (Black Box) پیدا سو. دوی واوریدل چي یو نفر وایي زه یو څه وینم، زه یو څه وینم، زه نه پوهیږم چي دا څه شي دی؟ او هیڅوک یي هم نسي تشریح کولای. او وروسته دوی ورته وویل، صحي ده موږ کومک در لیږو. دغه خبري ثبت سوي دي. تاسو کولای سی چي په انټرنیټ کي یي پیداکړئ.

موږ کومک درلیږو!

موږ کومک درلیږو!

آیا سمه ده؟

وروسته بیا هغه نفر راځي او هغه ورته منفي جواب ورکوي، او ورته وایي زه الوتکه نسم کنټرول کولای. زه نه پوهیږم چي دا څه شي دی؟ او بیا دغه نفر ځي او وایي هیڅوک مه را لیږئ! هیڅوک زموږ سره مرسته نسي کولای. هیڅوک مه را لیږئ! او له یو څه وخت تیریدو څخه دی هم پسي ورک کیږي. دا یواځینۍ الوتکه نه ده چي دلته ورک کیږي، بلکه نوري ډیري الوتکي او بیړۍ هم په دغه برموډا نومي سیمي کي ورکي سویدي.

نو ځینو وویل: چي آیا دا نو دا معني لري چي شاید د شیطان تخت هم هلته وي؟ الله (ج) ښه پوهیږي، لیکن کیدای سي.( www.youtube,com/THEMERCIFULSERVANT)

## د برموډا مثلث تیر او راتلونکی

داسي ښکاري چي دا سیمه له دي مخکي هم د ویر او ډار سیمي په نوم پیژندل کیده او داسي هم ویل کیږي چي د دي سیمي له کشف مخکي هم له دې سیمي د هیبت او ویري نوم درلود. د برموډا ټرینګل سیمه د قبرونو سیند، د شیطان مثلث، د مرګ او هلاکت مثلث، د بدمرغۍ مثلث او د اټلانټیک هدیرې په نومونو په تاریخي افسانو کي یاده سوې ده.

ځیني نظریات بیا د طبیعت ور شاوخوا د تخیلي فیلمونو په څیر د یوي سناریو څخه پرده پورته کوي. د نړۍ ډیرۍ لیکوالان او مبصرین د برموډا سیمي تر اوبو د لاندي ډوب شوي تمدن یوه نښه بولي. یوناني فیلسوف (افلاطون) لیکي: داتلانتیس خلکو د آتن د فتح کولو لپاره بي شمیره پوځیان چمتو کړل، خو زیوس (د یونانیانو رب النوع) پر دوی داسي یو طوفان راوست چي دوی هیڅ د تصور وړ نه وو. دا طوفان د سختو سیلابونو او ځمک لړزو سبب شو چي تر یوې شپې او ورځې یي دوام درلود چي په پایله کي یي داطلس سمندر داتلانتیس سیمه، تمدن او خلک ټول تر اوبو لاندي کړل هیڅ اثر یي پاتي نه سو. استیون سپیلبرګ بیا برمودا ته د وحشت سیمي نوم ورکوي. نوموړی وایي: هلته دځینو نورو مخلوقاتو په وسیله انسانان تښتول کیږي او په نامعلوم لوري وړل کیږي.

دغیري طبیعي پیښي په اړه د ډیرو کتابونو لیکوال چارلیس برلیتز بیا برموډا ته د انسانانو د هلاکت جغرافیې نوم ورکوي ماسیوا له دې چي په اړه یي توضیح ولیکي.

دیا دوني وړ ده چي یوه ډله پوهان او څیړونکي بیا د برموډا په بشپړ ډول یوه عادي سیمه په ګوته کوي، دوی هلته د ویروونکو موجوداتو یا فراطبیعي قوې شتون په کلکه ردوي. دوی د برموډا په اړه تصور د هغو لیکوالانو محصول بولي چي د خپلو کتابونو لپاره په ورته مسایلو کي له اغراق څخه کاراخلي. دیادوني وړده چي په ۲۰۱۳ کال کي د نړیوال طبیعت صندوق لخوا د نړۍ په کچه د لسو هغه سیمو نوملړ خپور شو چي د بیړۍ چلونکو لپاره له ګواښ څخه ډکي په ګوته شوي خو په نوموړي لړکي برموډا ته ځای نه دی ورکړل سوی.

## دبرموډا مثلث او دنورو سیارو دموجوداتو حقیقت

د برموډا مثلث، هغه جنجالي او پیچلي موضوع چي له اوږدومودو را هیسي یي د ساینس پوهانو، توطیه جوړونکو، پوځي کار پوهان او حتی د دیني څیړنکو پام ځان ته اړولی دی، د برموډا مثلث، شیطاني بحر(devil sea) او ګردی الوتکه(beam ship) هغه درې اړوند موضوعات دي، چي تر اوسه د دوي د موضوعاتو په اړوند کوم حقیقت نه دی پیدا سوی او لامل يي هم لا نه دی جوت سوی ۰۰۰









## د دوهمي برخي لنډيز

د برموډا د شيطاني مثلث د تير په اړه ويل شوي چي له پخوا څخه دغه سيمه د يوه ويرونکي او ډارونکي سيمي په توګه پيژندل کيدل تاريخي شواهدو په ډاګه کړيده چي دغه سيمه د لومړي ځل لپاره د امريکا د لويي وچي د کاشف لخوا چي د هسپانيا د شاه په فرمان چي په درو کښتيو او ۱۶۰ خدمه ورسره ملګري وو د بحر له لاري د اسيا او هند لاري کشف کړي را روان شول، کله چي کرستف کولمب د امريکا کاشف دغي سيمي ته را ورسيد نو دلته پر دوي باندي د سمندر ډيري درنې څپې راغلي چي دوی داسي د بيری احساس وکړ چي نور نو د مرګ کندي ته نيږدي يو او ځيني وخت به يي غوښتل چي بيرته هسپانيا ته ستون شي خو د يو څو ساعتونو وروسته يي وکتل چي يوه رڼا يي وليدل چي هغه د امريکا لويه وچه وه نو ويلی شو چي دلته د کښتی قطب نما هم کار نه کوی. دلته ويلی شو چي د برموډا لمړی نښانه د لمړي ځل لپاره په ۱۴۹۲ م کال کي ښکاره شويده او له هم هغه وخته څخه بيا تر نن ورځي پوري دغه سيمي ته بيلابيل نومونه ورکول شويدي چي چا ورته د قبرونو سيند، چا ورته د مرګ او هلاکت مثلث، او چا ورته د اټلانټک هديری نومونه ورکړيدي. د غه مثلث د راتلونکي په اړوند ډير معلومات وجود نلري ځکه فعلا په دي اړوند د پوهانو څيړني رواني دي چي اوس د عصري تکنالوجي څخه په استفاده د دغه سيمي اصلي دليل معلوموي.

## د دوهمي برخي پوښتني

مهرباني وکړئ ،لاندي پوښتونو ته لازم جوابونه ولیکئ.

۱. سوال: د برمودا مثلث تیر تاریخ تشریح کړئ؟

۲. سوال: د برمودا مثلث د نومونو په اړه لنډ معلومات ولیکئ؟

۳. سوال: د برمودا د مثلث د راتلونکي په اړه خپل توضیحات ولیکئ؟

۴. سوال: هغه کوم کس ؤ چي د لمړي ځل لپاره یي د برمودا د مثلث د شتون په اړه خبرداری ورکړ؟

# دریمه برخه

## برموډا مثلث ناویلي حقایق!

د برمودا مثلث د یو داسي عجب محل او مکان څخه عبارت دی چي پکي سلګونه الوتکي او کشتۍ ګاني تري تم او ورکي شویدي؛ داسي ورکي شوي چي حتی چایي یو جسد یا هم ټوټه تر لاسه نکړه. واقعاً د برموډا مثلث یو جالب او حیرت انګیز محل دی. راځئ د دې جالب مکان په اړه د شته معلوماتو په اساس څیرنه و کړو.

دبرموډا مثلث اصلاً یومثلث ندی، بلکه یوبیضوي جوړښت لري، چي داطلس سندر اوامریکا په جنوب ختیځ سواحلو کي وقعیت لري. یوراس یي تر برموډا پوري دی. د انحنا برخه یي د فلوریډا د لاندنی قسمت نه تیره او له پورتوریکو څخه تر تیریدو وروسته د جنوب او ختیځ په طرف منحرف کیږي. همدا ډول د سارګاسو د ریاب څخه تر عبور وروسته بیرته له برموډا سره یوځای وصلیږي. جغرافیوي محور د برموډا مثلث په جنوب کي په ۸۰ درجو واقع دی. په دې برخه کي دحقیقي جغرافیوي او مقناطیسي محور تر منځ انحراف هم نه لیدل کیږي یعني صفر وي د برموډا په نوم مشهوره سوې دا سیمه د ډیرو رازونو او د اسرارو ډکه ده او د تاریخ په اوږدو کي انسانان د عجیبو او غریبو واقعاتو سره په دي سیمه کي مخ سوي دي. تاسو هم که په دې سیمه کي واقع سویو پیښنو په اړه واورئ، باورلرم چي حیران به شئ.

### دبرموډا مثلث مرموزي پیښني!

د برموډا مثلث چي کله کله ورته شیطاني مثلث هم وایي،د ډیرو مرموزو ځاني او مالي تلفاتو د واقع کیدو لامل ګرځیدلی. دا کوم پخواني واقعات ندي بلکه همدا څولسیزي پخوا واقع سوي دي. راځئ دغو حوادثو ته په سرسري شکل نظر واچوو.

**۱) ۱۹شمیره الوتنه :**

په مجموع کي څیرونکي په دې باور دي، چي د موجوداتو په ورکیدلو کي ډیر سببونه سته لکه یوه الهي مخلوق موجودیت، جیوفیزیکي لاملونه، او محیطي موارد شتون لري. نولسمه

(۱۹) شمیره الوتنه د برمودا مثلث یو د هیجاني او مرموزو پیښو له جملې څخه شمیرل کیږي. ۱۹۴۵ کال د دسمبر۵، د فلوریډا فوټ لوډریل نظامي قرارګاه څخه ، پنځه (TBF) او نجر الوتکي د تمرین لپاره د برمودا مثلث په سیمه کي هوا ته پورته کیږي. اما له ځنډ وروسته د فني او جهت یابي له مشکلاتو سره مخ کیږي. که څه هم له قرارګاه څخه یي د کومک غوښتنه وکړه خو ګټه یي ونکړه. دغو پنځو واړو الوتکو تقریباً یو ځای هر څومره چي کوښښ وکړ ترڅو وچي ته ځان ورسوي، اما دوی برعکس د اطلس سمندر په طرف ښکته تلونکي وې. هغه خبري چي د دې الوتني د یوې الوتکي د کپتان څخه ثبت سوي: موږ د سون موادو د کمښت له امله د اطلس سمندر په لور روان یو ؛ نه یوائی دا چي د دې پنځه الوتکو ۱۴ کسان پیدا نسول ، ۱۳ هغه کسان چي د دوی د مرستي لپاره راغلي وو، نه یوائي دا چې مرسته یي ونکړه د دوی هم چا څرک ونه لیدی.

**۲) کار۱ـډرینګ :**

یوه پنځه بادیزو لرونکي پردو کشتۍ وه او د خپل وخت مشهور ترینه د حمل او نقل وسیله بلل کیده. دا کښتۍ په ۱۹۲۰ کال داګسټ په میاشت کي په داسي حال کي چي د ډبرو سکاره یي د امریکا د ویرجینیا ایالت څخه ریوډو جینرو برازیل ته منتقلول. که څه هم مواد یي په سالم شکل انتقال کړل، اما بیرته د همدي کال د سپټمبر په میاشت کي د همدي مسیر په اوږدو کي تری تم شوه. همدا کښتۍ په ۱۹۲۱ کال د جنوری په میاشت کي د کارولینا په سیمه کي وموندل شوه چي دکښتۍ ټول سپاره، دجهت پیدا کولو وسایل، د ریکار ډینګ توکي ورک او تري تم وو او کښتۍ په یو ډارونکي روح بد له سوې وه. که څه هم امریکا د دې کښتۍ په اړه زیاتي څیړني وکړې، اما هیڅ یي ترلاسه نه کړل.



### ۳) اس اس ايل فارو: (SS EL Faro)

يوه باري ۲۴۰ متريزه کښتۍ وه چي په ۲۰۱۵ دسپتمبر په مياشت کي د فلوريډا څخه د پورتوريکو په طرف د۳۳ عاملي سره سفرپيل کړ. ويل کيږي چي د دې کښتۍ په مسير کي يو کوچنی طوفان ايجاد سو، خو د کښتۍ مسير داسي منحرف شو چي د توفان څخه يي څو سوه ميله فاصله لرله. د سفر تر نيمايي بدون له کوم مشکله سفر ښه را لنډيده، اما ناڅاپه دا کوچنی طوفان په يو خطرناک طوفان تبديل شو چي موجونه يي تر دولس متره پورته کيدل. اخري خبري چي په کښتۍ کي دموجوده ميکروفون په اساس ثبت سوې ويل کيږي: دکښتۍ يوه برخه زخمي شوې او زيا تي اوبه د کښتۍ په لور رواني دي. خو له لږ ځند وروسته د کښتۍ کپتان اعلان کوي، چي د اوبو جريان قطع شوی او هرڅه تر کنترول لاندي دي. د دې خبرو وروسته ناڅاپه اړيکه قطعه کيږي او څو هفتي وروسته د دې کښتۍ پاتي شوني د سمندر په تل کي د ۴۶۰۰ متره په ژوروالي کي پيدا کيږي خو ۳۳ تنو تر اوسه چا څرک هم ونه ليد او ورک شول.

### ۴) يواس اس سا يکلوپس : (U.S.S Cyclops)

یوه لویه باري کښتۍ چي۳۰۹ تنو سره یوځای په۱۹۱۸ کال کي د برازیل څخه د بالتیمور په لور روانه وه ، خو هیڅکله هم خپل مقصود ته ونه رسیده. د برمودا مثلث په ساحه کي د دې کښتۍ چا ټوټه هم پیدا نکړه اونه یي د تري تم کیدو په علت څوک پوه شول.



**۵) استار ټا یګر : (B.S.A.A Star Tiger)**

دا یوه الوتکه ده چي په ۱۹۴۸ دجنوري په میاشت کي د۳۱ تنو سره یو ځای د برمودا مثلث په ساحه کي ورکه شوه. نه یی علت، نه یي ټوټه او نه یي د کوم تن جسد تر اوسه چا پیدا کړ.

همدا ډول دوګلاس دی سی الوتکه د۳۱ نفرو، تریسلنډر د دولسو نفرو، د امریکا نظامي ۴۴۱ نمبر الوتکه چي، نظامي ۴۲ کسان په کښتي سپاره وو او نور دې ته ورته لسګونه نور



هیجاني او مرموز حوادث د همدې برموډا مثلث په سیمه کې واقع سوي، خو د دوی د غرقیدو په اړه یو واحد نظر شتون نلري.

## د برموډا مثلث داخلي جوړښت

د برموډا مثلث په اړه څرګندوني او بیلابیل فرضي سببونه سته. ځیني غیري طبیعي نظریې چي په دې اړه وړاندي سوي دي، ظاهراً سړی پریکړه کولای سي چي سم نه دي او یوائې نکلونه دي، لکه د نورو مخلوقاتو موجودیت، د شیطاني قوې موجودیت، ..... او دې ته ورته افساني چي په حقیقت کې صحیح نه دي. د برموډا مثلث د پیښو د سببونو د څیړونو لپاره موږ ساینسي برخه په نظر کې نیسو، او په دې اړه ځیني تیورۍ او فرضیې وړاندي کوو، چي کیدای سي د برموډا مثلث د سببونو څخه وي.

په دې اړه ځیني طبیعي سببونه لکه د سمندر د جزر او مد په اساس د سمندر په تل کې د زلزلوي امواجو تولید، مخرب بادونه او اتموسفیري بدلونونه، انتشفشاني بالونونه چي د هوایي الوتکو د چاودلو سبب ګرځي، بادیزي بوربوړکۍ چي د الوتکو د لویدو او کښتۍ ګانو د لورې د بدلیدو لامل ګرځي، د مقناطیسي قوې شتون او د الکترو مقناطیسي قوې بدلونونه او تر ټولو مهم په دې ساحه کې د میتان هایدرایت ګاز شتون د برموډا مثلث د پیښو لپاره د طبیعي لامل په توګه پیژندلای سو. استرالیایي څیړونکو ثابته کړې چي د برموډا مثلث په ساحه کې په ډیره اندازه د میتان هایدرایت شتون د اوبو په سطحه کې د ډیر شمیر حبابونو د رامنځته کیدو لامل ګرځي، چي له امله یې د اوبو کثافت کمیږي، ښایي په اوبو کې د کښتیو د کښته تللو وجه وي. همدا ډول د دې ګازونو موجودیت د کریسټال په شکل د سمندر تر تل لاندي ۳۲ کیلومترۍ کې هم تثبیت سوي دي.

د برموډا مثلث په اړه وروستي او نسبتاً منطقي نظریه (شپږ ضلعي وريځي) نومیږي، چي د کلراډو پوهنتون د څیړونکو په اساس وړاندي سوه. د څیړونکو په نظر د برموډا مثلث د پاسه د شپږضلعي په بڼه د وريځو تشکیل ممکن د دې پیښو د پیښیدو اصلي سبب وي. هغه انځورونه چي د ناسا(NASA) اداري پرمټ اخیستل سوي، ښکاره لیدل کیږي، چي د برموډا مثلث د پاسه شپږ ضلعي وريځي الوځي څیړونکي باور لري چي دا شپږ ضلعي وريځي کولای سي، چي بادیز بمونه د ۲۷۳ کیلومتر في ساعت، او د ۱۴ مترو په ارتفاع د اوبو موجونه تولید

کړي، چې همدا د الوتکو او کښتۍ ګانو د سقوط او تخريب لامل ګرځي . د يادوني وړ ده چې د باد ۲۵۷ کيلومتر في ساعت سرعت د دې وړتيا لري چې الوتکي، کورونه او کښتۍ ګاني له سقوط او تخريب سره مخ کړي، چې دا سرعت د برمودا مثلث په ساحه کې ډير زيات دی. دا شپږ ضلعي وريځي د ۴۰-۸۰ کيلومترو پوري پراخوالی لري. دا وريځي په غيري عادي ډول انتشار پيدا کوي، او کله نا کله خطرناک توپانونو د منځ ته راتلو سبب ګرځي، ځکه خو د برمودا مثلث د يو قاتل په شکل عمل کوي، او کله کله ستونزې پيدا کوي.

## د دریمي برخي لنډیز

د برموډا ټرینګل اطلس سمندر کي یو ویروونکی او زړه بوږنوونکی ځای دی چي زیاتې بیړۍ د سلګونو انسانانو سره پکي غرقي سوي دي، تر ننه پوري په دي نوي ساینسي نړۍ کي کوم ساینس پوه په دې نه دي توانیدلي چي حقیقت ځان ته معلوم کړي چي هغه کوم قوت دی چي دا کښتۍ ځان ته کشوي. په اصل کي دا مثلث نه دی، بلکه د یوې بیضوي په شکل جوړښت لري. دغه سیمي ته ځکه مثلث وایي چي له درو سیمو سره د مثلث په شکل زاویي لري.

د برموډا مثلث چي کله کله ورته شیطاني مثلث هم وایي، د ډیرو مرموره ځاني او مالي تلفاتو د پیښیدو سبب ګرځیدلي. دا کوم پخوانۍ پیښي نه دي، بلکه همدا څو لسیزي پخوا واقع سوي دي. راځۍ ځینو دغو پیښو نومونو ته اشاره و کړو، چي پورته په دریمه برخه کي معلومات وړاندي سول:

۱. ۱۹ شمیره الوتنه


۲. کارا-ډیرینګ

۳. اس اس ایل فارو

۴. یو اس اس سایکلوپس

۵. استار ټایګر

بر علاوه پر دغه پیښو نوري پیښي هم واقع سوي دي چي تفصیل یي ډیر وخت او څیړني اړتیا لري.


This ship was last seen in 1925, and has
mysteriously reappeared after disappearing
90 years ago, in the Bermuda Triangle! She
remains intact, and afloat, and has NEVER
been seen by any aircraft, or sea~going ships,
in 9 decades..nor has she ever run aground!
Where has she been..and what happened to
her crew? No skeletal remains have been
found aboard ship!

## د دریمي برخي پوښتني

مهرباني وکړئ ،لاندي پوښتونو ته لازم جوابونه ولیکئ.

۱. سوال: د برمودا مثلث د شکل اصلیت تشریح کړئ؟

۲. سوال: د برمودا مثلث د واقعو نومونه ولیکئ؟

۳. سوال: اسلامي پوهان د برمودا مثلث د سیمي په اړه څه ویلي دي؟

۴. سوال: د اس اس ایل فارو د کښتۍ واقعه تشریح کړئ؟

۵. سوال: په برمودا نومي سیمي کي د واقع سویو پیښو نومونه ولیکئ؟

## پایلــــــــه

په اخر کي ویلای سو چي د برموډا مثلث یو داسي حیرانونکی او بیرونکی ځای دی چي په کي لسګونه الوتکي او کښتۍ ګاني تري تم شوی دي، داسي ورکي شوي چي حتي چا یي یو جسد او یا ټوټې هم نه دي پیداکړي ماسیوا د هري کونورو د کښتۍ څخه تر دي وروسته نو نه پوهیږو چي د مثلث به څنګه او په څه شکل وي. د برموډا مثلث یو جالب او حیرانونکی ځای دی چي په اصل کي مثلث نه، بلکه یوې بیضوي په شکل جوړښت لري چي د اطلس سمندر او امریکا په جنوب ختیځو سواحلو کي قرار لري. یوه څنډه یي د برموډا سره رابطه لري، د انحنا برخه یي د فلوریډا د لاندنی برخي څخه تیره او د پورتوریکو څخه تر تیریدو وروسته د جنوب او ختیځ په طرف منحرف کیږي. دغه سیمه د ډیرو رازونو او اسرارو ډکه ده، او د تاریخ په اوږدو کي انسانان د عجبو او غریبو پیښنو سره په دې سیمه کي مخ شوی دي. د دغه مطلب په ویلو سره به هم تاسي حیران شوي یاست.

# ماخذونه


۱. Bermuda triangle, encyclopaedia britanica. (2011)

۲. lomritob.com

۳. Bermuda triangle, wikipidia.com

۴. www.youtube.com/THEMERCIFULSERVANT

# د ترتیب کوونکي لنډه پیژندنه

نوم: محمداؤد

تخلص: افغان

د پلار نوم: انجنیر غلام محمد (افغان)

د زیږیدو ځای: کندهار

د زیږیدو نېټه:۱۳۷۲/۲/۳

د زده کړو کچه: لیسانس

تر کار لاندي آثار: د المان سیاسي نظام، د انګلیسي ژبي ګرامر(پښویه)، او نور...




مثلث برمودا
جزيرة برمودا
كوبا
سن خوان
بورتوريكو


رمودا
المتحدة الأمريكية
فلوريدا
ميامي
الباهاماس
كوبا
سان خوان
ورتوريكو
الدومينيكان


www.ts3a.com




Bermuda
Florida
North Atlantic Ocean
Puerto Rico



